ایټالیا

# په استقبال کې ستاسو حقونه او مکلفیتونه



دا معلومات ستاسو لپاره دي که:

- تاسو د 18 کلونو څخه کم عمر لرئ
- تاسو د یو یا دواړو والدینو سره راغلي یاست
- تاسو او ستاسو کورنۍ په ایټالیا کې د پناه ځای لپاره (چې د نړیوال خوندیتوب په نوم هم یادیږي) غوښتنه کړې ده.

PASHTO

# منځپانګې


تاسو او ستاسو کورنۍ په دې هېواد کې خوندي یاست 3

څوک درسره مرسته کولای شي؟ 3

تاسو او ستاسو کورنۍ به څه ترلاسه کړئ؟ 4

د روغتیا پاملرنې حق 6

کارکوونکو ته خبر ورکړئ 7

د غوره لېوالتیاو ارزونه څه شی دی؟ 8

د زده کړې حق ؟ 8

د کار کولو حق 9

ستا د پناه غوښتنې سند 9

تاسو او ستاسو کورنۍ به چېرته پاتې کیږي؟ 10

ته څه کولی شې که چېرې یو څوک درسره بد چلند وکړي؟ 11

تاسو او ستاسو کورنۍ د استقبال کوم مکلفیتونه لرئ؟ 12

که چېرې تاسو یا ستاسو کورنۍ ستاسو مکلفیتونه ادا ونکړئ نو څه به کیږي؟ 13

د نړیوال خوندیتوب لپاره د غوښتنلیک ورکولو او د +EU هېوادونو ته د سفر کولو قواعد 14

که چېرې تاسو او ستاسو کورنۍ له نورو هېوادونو څخه یو ته وتښتئ نو څه به کیږي؟ 15


څوک تاسو او ستاسو کورنۍ سره مرسته کولی شي که چېرې تاسو د چارواکو لخوا پرېکړې سره موافق نه یاست؟ 16

څه به کیږي که چېرې یوڅه ملاتړ بدلون ومومي؟ 16

د اړیکو جزئیات 17

## تاسو او ستاسو کورنۍ په دې هېواد کې خوندي یاست

تاسو او ستاسو کورنۍ چارواکو ته وویل چې تاسو بېرته خپل هېواد ته نه شئ تللی ځکه چې تاسو په خطر کې یاست او تاسو د پناه غوښتنه کړې ده. تاسو او ستاسو کورنۍ په ایټالیا کې پناه غوښتونکي یاست.



## څوک درسره مرسته کولای شي؟

په اروپا کې، هر څوک چې له 18 کلونو څخه کم عمری لري یو ماشوم ګڼل کیږي او د **ځانګړي ملاتړ** ترلاسه کولو حق لري.

په هېواد کې ستاسو د پاتې کېدو پرمهال، لاندې مسلکي اشخاص ستاسو سره مرسته کولی شي، د بیلګې په توګه:

- یو **ټولنیز کارکوونکی** به تاسو او ستاسو کورنۍ سره ستاسو ورځني اړتیاوو کې مرسته وکړي یا د نورو مسلکیانو سره اړیکه ونیسي څوک چې د یوې ځانګړې ستونزې کې مرسته کولی شي.
- یو **ډاکټر (ډاکټره)** یا **نرس (نرسه)** به ستاسو سره مرسته وکړي که چېرې تاسو ځان ناروغه احساس کوئ، تاسو ټپي/زخمي یاست یا تاسو کوم ډول طبي مرستې ته اړتیا لرئ.
- یو **ارواپوه/سایکالوجست** به ستا سره مرسته وکړي که چېرې ته د خفګان، غوسې، ویرې، اندېښنې احساس کوې یا ویده کېدل سخت مومې.
- یو **قانوني سلاګر (سلاګره)** به تاسو او ستاسو کورنۍ سره په دې پوهېدلو کې مرسته وکړي چې د پناه غوښتنې کړنلارې په جریان کې به څه کیږي او په هغه صورت کې چې تاسو باور لرئ چې ستاسو حقونو ته درناوی نه کیږي.
- یو **ژباړونکی** سو سره په هغه ژبه باندې خبرو اترو کې مرسته کولی شي چې تاسو پرې پوهېږئ. د دوی رول کټ مټ هغه څه ژباړل دي چې تاسو او نور يې وایئ.
- ښوونکی به درسره مرسته وکړي چې ژبه او د ښوونځی مسلک زده کړې

آیا تاسو څه ستونزې لرئ؟ ته تل د کارکوونکوو څخه د مرستې او ملاتړ غوښتنه کولی شې. مه وېرېږئ، ستونزې سره یوځای حل کېدای شي.

## تاسو او ستاسو کورنۍ به څه ترلاسه کړئ؟

تاسو به بېلابېل ډوله ملاتړ او خدمتونه ترلاسه کړئ پداسې حال کې چې تاسو د چارواکو لخوا ستاسو پناه ځای غوښتنلیک د معاینه کولو په انتظار کې یاست. دې ته **استقبال** ویل کیږي.

د یو ماشوم په توګه او د یو پناه غوښتونکي په توګه تاسو حقونه لرئ، مګر مکلفیتونه هم لرئ چې تاسو یې درناوی کولو ته اړتیا لرئ. دا په دې بروشر/رساله کې بیان شوي دي.

که چېرې تاسو د دې بروشر/رسالې په برخو باندې نه پوهېږئ یا که تاسو څه پوښتنې لرئ، له د استقبالی مرکز کارکوونکو او خپلو والدینو څخه پوښتنه وکړئ.



په دې هېواد کې ستاسو د پاتې کېدو په جریان کې، کارکوونکي به ستاسو د حالت پورې اړوند اضافي معلومات وړاندې کړي. ته هر وخت پوښتنې کولی شې.

**ستاسو د حالت پورې اړه لري، تاسو او ستاسو کورنۍ به لاندې توکي ترلاسه کړئ:**



- د خوب کولو ځای



- خواړه



- جامې



- د شخصي حفظ الصحې توکي




- ستاسو کورنۍ کېدی شي د ورځني لګښتونو لپاره پیسې هم ترلاسه کړي.

## د روغتیا پاملرنې حق

**چارواکي به دا خبره ډاډمنه کړي چې تاسو هغه روغتیایي پاملرنه ترلاسه کوئ چې تاسو ورته اړتیا لرئ.**

**تاسو خپلې کورنۍ او کارکوونکو ته د هرې یوې طبي ستونزې په اړه خبر ورکولی شئ کوم چې تاسو يې لرئ.** دوی به تا سره د نرس (نرسې) یا ډاکټر (ډاکټرې) لیدلو کې مرسته وکړي که ته اړتیا لرې.



که چېرې ډاکټر (ډاکټره) دا ضروري/اړین وګڼي، نو دوی به درمل درته ولیکي او همدارنګه د متخصصینو سره لیدنې به ترتیب کړي.

کارکوونکي به تاسو او ستاسو کورنۍ ته ووايي که تاسو کېدی شي باید د نرس یا ډاکټر سره طبي معاینې ته لاړ شئ.

دوی کېدی شي ستاسو روغتیا وګوري او تاسو ته اړینې مرستې وړاندې کړي.

که چېرې تاسو طبي بیړنې حالت یا ټپ/زخم لرئ چې بیړنۍ درملنې ته اړتیا لري، نو خپل والدینو یا کارکوونکو ته ووایاست. که چېرې تاسو د هغه ځای څخه بهر یاست چې تاسو پکې پاتې کیږئ، نو تاسو په وړیا توګه د بیړني شمېرې 112 ته زنګ وهلی شئ.

## کارکوونکو ته خبر ورکړئ که چېرې:





- تاسو نا جوړه یاست، ټپي/زخمي یاست یا عاجل طبي مرستې یا درملو ته اړتیا لرئ
- ته نشه يي توکي کاروې يا الکول څښې
- ته په تیرو وختونو کې د تاوتریخوالی یا ناوړه ګټه اخیستنې سره مخ شوی يې یا ته ورسره اوس مخ يې
- تاسو امیندواره یاست یا تاسو کېدی شي امیندواره یاست
- تاسو په خپله نشئ ګرځیدلی، یا تاسو په اورېدلو یا کتلو کې ستونزې لرئ
- ته ډېر اندېښمن، خفه يې، خوب نشې کولی یا منفي فکرونه لرې
- تاسو ناامنه احساس کوئ یا د یو چا څخه ویره لرئ، یا هم یو نا اشنا کس یا یو څوک چې تاسو يې پېژنئ
- ته د هغه کارونو کولو ته مجبور شوي يې یا مجبور کیږې چې ته يې نه غواړې
- تاسو د خپلې عقیدې، له چا سره د مینه، د څنګه جامې اغوستلو یا چلند له امله ناامنه احساس کوئ
- ستاسو د کورنۍ غړي ملاتړ ته اړتیا لري.



## د غوره لېوالتیاو ارزونه څه شی دی؟



دا یو فعالیت دی چېرې چې به تاسو نور تاسو به نور کارکوونکی ووینې لکه طبی کارکوونکی، ټولنیز کارکوونکی، یا روانپوه څوک چې به له تاسو څخه پوښتنې وکړي چې:

- ستا په **اړتیاو** پوهه شي
- پرېکړه وکړي چې ته کوم **ملاتړ** ته اړتیا لرې.

دا به د چاروآکو سره په مهمو پرېکړو کولو کې مرسته وکړي، د مثال په توګه تاسو او ستاسو کورنۍ به چېرته پاتې شئ.

تاسو په نرس (نرسې)، ډاکټر (ډاکټرې) او کارکوونکو باور کولی شئ. تاسو له دوی سره هرڅه شریکولی شئ. هېڅ څه چې تاسو یې وایاست به ستاسو له توافق پرته ستاسو له والدینو څخه پرته له هیچا سره شریک نشي. یوازینۍ استثنا دا ده چې که ستاسو یا د یو بل چا ژوند په خطر کې وي.

که چېرې تاسو نه غواړئ چې ستاسو والدین خبر شي یا ښکیل شي، نو کارکوونکو ته ووایاست. دوی به ستا غوښتنه وځیري او د هغه څه پر بنسټ به پرېکړه وکړي چې ستا لپاره غوره دي.

## د زده کړې حق



د یو ماشوم په توګه تاسو د زده کړې او د زده کولو حق لرئ. که چېرې تاسو ښوونځي ته ځئ او دې وخت پرمهال تاسو 18 کلن شئ، نو تاسو خپل حاضرۍ ته د ښوونځي تر ختمیدو پورې دوام ورکولی شئ.

کارکوونکي به تاسو او ستاسو کورنۍ سره په ځایي ښوونځي کې راجسټر کېدو کې مرسته وکړي. دوی به تا ته د ژبې د چمتووالي ټولګیو او نورو کورسونو په اړه خبر درکړي. ته کېدای شي د دې کورسونو څخه په ځینې کې ګډون ته اړتیا ولرې.

کارکوونکي به تاسو ته د زده کړې او تفریحي فعالیتونو په اړه ووایي ترڅو تاسو سره د زده کولو، پرمختګ او نوي ملګري په جوړولو کې مرسته وکړي.

## د کار کولو حق



ستا د عمر او حالت پورې اړه لري، تا ته کېدی شي په ایټالیا کې د کار کولو اجازه درکړل شي، که ته داسې کول وغواړې. د استقبالی مرکز کارکوونکی به تاسو ته نور معلومات درکړي.

تاسو کولی شئ له ۹۰ ورځو وروسته له رسمی کېدو وروسته کار وکړئ، پرته له دې چې ستاسو غوښتنلیک ښکاره پې بنسته وی



ټول هلکان او نجونې چې د 16 کلونو څخه کم عمر لري د کار کولو اجازه نلري.

## ستاسو د پناه غوښتونکي سند



تاسو به یو شخصی سند ترلاسه کړئ چې ستاسو نوم او عکس پکې وی .
دا ثبوت دی چې ته په دې هېواد کې پناه غوښتونکی یې .
ته باید دا هر وخت له ځان سره ولرې .

دا سند مهم دی، پام کوه چې له لاسه یې ورنه کړې او نورو ته یې مه ورکوه.

## تاسو او ستاسو کورنۍ به چېرته پاتې کيږي؟

هغه ځای به چې تاسو پکې پاتې کیږئ پداسې حال کې چې چارواکې ستاسو د پناه ځای غوښتنلیک ارزونه کوي، ستاسو حالت پورې اړه لري.



کارکوونکی به تاسو ته ووايي چې چیرته باید ژوند وکړئ، مثلاً په ځانګړی استوګنځی، ښار یا سیمه کې
.موقعیت ممکن د خالی ځوکۍ یا ستاسو د کورنۍ اړتیاوو پورې اړه ولري .

که چېرې ستاسو کورنۍ غواړي چې د استوګنځای څخه بهر پاتې شي یا د لنډ وخت لپاره ښار یا سیمه پرېږدي، نو دوی د چارواکو څخه اجازت غوښتلو ته اړتیا لري.

**تاسو او ستاسو کورنۍ کېدی شي یوازې په هغه ځای کې ملاتړ او خدمتونه ترلاسه کړئ چې د چارواکو لخوا پرېکړه شوې وي.**

ډېر په ندرت سره کورنۍ ممکن په داسې مرکز کې واچول شي چېرې چې دوی په خپله خوښه نشي تللی او راتللی. که چېرې تاسو په دې حالت کې یاست، یو قانوني سلاګر (سلاګره) او کارکوونکي به تاسو سره مرسته وکړي.

**مهمه نه ده چې تاسو ته چېرته ځای درکړل شوی، تاسو حق لرئ چې:**



- **له خپلې کورنۍ سره پاتې شئ**



- **د خپلې کورنۍ د غړو د لټون لپاره مرسته ترلاسه کړئ، که چېرې تاسو ته معلومه نه وي چې دوی چېرته دي.**

**تاسو د خوندي اوسیدو حق لرئ. هېڅوک اجازه نلري چې:**




تاسو ته زیان ورسوي





ستاسو سپکاوی وکړي



تاسو ته ګواښ وکړي

مهمه نه ده چې دوی څوک دي، یو نا اشنا کس یا یو څوک چې تاسو یې پېژنئ.
که تاسو د خپلو والدینو یا کارکوونکو سره څه ستونزې لرئ، تاسو خبرې کولای شئ.

## ته څه کولی شې که چېرې یو څوک درسره بد چلند وکړي؟



تاسو د هغه کس سره خبرې کولی شئ چې تاسو پرې باور لرئ، د کورنۍ د کارکوونکو غړي، د استقبالی مرکز غړي .په هر حالت کې، په ایټالیا کې د ماشومتوب او ځوانۍ لپاره د تضمین اداره شته چې ستاسو حقوق ساتي.



که چېرې څوک تا سره بد چلند کوي، ته دا چارواکو ته راپور کولی شې ترڅو د بیا پېښېدو څخه ډډه وشي. دې ته 'شکایت کول' ویل کیږي.

**توجه!**

که چېرې ته د هغه ځای څخه بهر یې چېرته چې ته پاتې کیږې او په خطر کې یې، ته د هر تلیفون څخه د ملي بیړني شمېرې 112 ته وړیا زنګ وهلی شې.

## تاسو او ستاسو کورنۍ د استقبال کوم مکلفیتونه لرئ؟

دا مهمه ده چې تاسو رښتیا وواياست او له چارواکو سره همکاري وکړئ، حتی که چېرې ځينې وختونه ستاسو د کيسې ويل ډارونکی او ستونزمن احساس کويږي.

کارکوونکي ستا سره مرسته کولی شي، که چېرې دوی ته ستا د حالت په اړه معلومه وي.



هر چېرې چې تاسو او ستاسو کورنۍ به پاتې کيږي، هلته به قوانين شتون ولري چې تعقيب شي. د مثال په توګه، تاسو بايد نورو اوسيدونکو او کارکوونکو ته درناوی وکړئ او د ارامو ساعتونو پر مهال شور مه کوئ )قواعد د مرکز په مقرراتو کې ليکل شوی چې ستاسو کورنۍ به د استقباليې په مراسمو کې ترلاسه کړی)(

کله چې قواعد تعقيب نشي کارکوونکي به قواعد او پايلې بيان کړي.

دا ډېره مهمه ده چې تاسو او ستاسو کورنۍ:

✅ چېرته چې تاسو پاتې کيږئ د هغه ځای قواعد تعقيب کړئ

- د خپل ژوند د ځای قواعد تعقيب کړه
- له هغه ځايه مه تېښته کوه چې چارواکو درته ويلی و پاتې شي
- د دې هېواد قوانينو ته درناوی وکړه، چې کارکوونکی به يې درته تشريح کړی.

## که چېرې تاسو یا ستاسو کوربنۍ ستاسو مکلفیتونه ادا ونکړئ نو څه به کیږي؟



که چېرې داسې وشي، تاسو له د استقبالی مرکز کارکوونکو ته سره په ښکاره ډول خبرې کولی شئ او خپل وضعیت او خپل وجې بیان کړئ.

چارواکي به حالت وارزوي او ستاسو والدینو ته به خبر ورکړي که چېرې دوی د ځینې اقداماتو کولو پرېکړه وکړي.



د مثال په توګه، که چېرې ستاسو د کورنۍ یو غړی د استوګنې له هغه ځای، ښار یا سیمې څخه وتښتي چېرې چې چارواکو پرېکړه کړې وه چې کورنۍ باید پاتې شي، **نو د کورنۍ هغه غړی کېدای شي لږ ملاتړ ترلاسه کړي.**



که چېرې ستاسو د کورنۍ یو غړی له تاوتریخوالي ډک چلند کوي، **نو د کورنۍ هغه غړی ممکن هغه ملاتړ له لاسه ورکړي چې دوی یې ترلاسه کوي.** پولیس کېدی شي راوغوښتل شي.

**تاسو او ستاسو کورنۍ اوس په ایټالیا کې وئ، کوم چې د EU+ هېواد دی.**
**د EU+ هېوادونه دا دي:**

- د اروپایي اتحادیې (European Union, EU) 27 غړي هېوادونه عبارت دي له: اتریش، بلجیم، بلغاریه، کروئشیا، قبرس، چیک جمهوریت، ډنمارک، استونیا، فنلینډ، فرانسه، جرمني، یونان، هنګري، ایټالیه، لاتویا، لیتوانیا، لوکزمبورګ، مالټا، هالنډ، پولنډ، پورتګال، د ایرلینډ جمهوریت، رومانیه، سلواکیا، سلونیا، اسپانیه، سویډن او
- 4 نور هېوادونه: آیسلېنډ، لیچتنستین، ناروې او سویټزرلنډ.

## د پناه ځای لپاره غوښتنه کولو او +EU هېوادونو ته د سفر کولو قواعد

**د استقبالی مرکز کارکوونکی به تاسو او ستاسو کورنۍ ته دا مهم قواعد بیان کړي. تاسو په هر وخت کې له هغوی څخه پوښتنې کولی شئ.**




- تاسو او ستاسو کورنۍ باید په ایټالیا کې پاتې شئ او د +EU نورو هېوادونو څخه یو ته ونه تېښتئ.
- که چېرې تاسو د دې هېوادونو څخه په یو کې د کورنۍ غړي لرئ، چارواکي به تاسو ته د کورنۍ په بیا یوځای کېدو باندې ستاسو د حقونو په اړه خبر درکړي. بس مه تېښته.

تاسو ممکن د دې هېواد څخه د تېښتې په اړه فکر وکړئ یا ځینې خلک به هڅه وکړي چې تاسو قانع کړي چې تېښته وکړئ. دا ستاسو لپاره خطرناک کېدی شي. تاسو او ستاسو کورنۍ د استقبالی مرکز کارکوونکی سره خبرې کولی شئ او دوی ته حالت بیان کړئ. کارکوونکي تاسو ته مشوره درکولی شي.

- ✖ که تاسو وتښتئ، نو منفي پایلې به شتون ولري، کوم چې په دې بروشر/رساله کې تشریح شوي. د مثال په توګه، تاسو به په بل هېواد کې د استقبال لړ ملاتړ ترلاسه کړئ.
- په یاد ولرئ، تاسو باید خپل د پناه غوښتنې غوښتنلیک په هغه +EU هېواد کې راجستر کړئ چېرته چې تاسو لومړی راغلی وئ، ترهغه چې چارواکو تاسو ته بل ډول خبر درکړي وي.
- یوازې یو له دې هېوادونو څخه ستاسو د پناه غوښتنې غوښتنلیک د څېړلو ذمه وار دی. په ایټالیا کې چارواکي به تاسو ته ووایي چې کوم هېواد د دې ذمه وار دی.

تاسو به د دې کړنلارو په اړه په جلا بروشرونو/رسالو کې زده کړئ.

## که تاسو او ستاسو کورنۍ د +EU هېوادونو څخه یو ته وتښتئ نو څه به کیږي؟




**په ایټالیا کې:**

- ستاسو د پناه غوښتنې کړنلاره کېدی شي ودرول شي.

**په بل +EU هېواد کې:**

- چارواکي کېدی شي پرېکړه وکړي چې تاسو بېرته هغه +EU هېواد ته ولېږي چې تاسو ترې وتلي وئ.

له هغه شيبې چې چارواکي تاسو ته ستاسو د بېرته لېږلو پرېکړې په اړه خبر درکړي، تاسو به ځينې حقونو ته لاسرسی ونلرئ، د مثال په توګه:

- تاسو به د ملاتړ ځينې ډولونه ترلاسه نه کړئ او
- تاسو به د کار کولو اجازه ونلرئ.

## خوک تاسو او ستاسو کورنۍ سره مرسته کولی شي که چېرې تاسو د چارواکو لخوا پرېکړې سره موافق نه یاست؟



تاسو د قانوني سلاکر څخه د مرستې غوښتنه کولی شئ. قانوني سلاکر (سلاکره) یو کس دی څوک چې په دې هېواد کې په قوانینو باندې پوهېږي او ستاسو حالت مطالعه کولی شي او ستاسو سره مرسته کولی شي.

کارکوونکي به تاسو ته د هغو غیر دولتي سازمانونو په اړه هم خبر درکړي څوک چې کېدی شي تاسو ته معلومات او مرسته هم وړاندې کړي.





تاسو هر وخت United Nations Refugee Agency (د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري) (UNHCR) سره اړیکه نیولی شئ. UNHCR د هغو خلکو ساتنه کوي څوک چې د خپل هېواد پرېښودو ته مجبور شوي وو.

## څه به کیږي که چېرې یوځه ملاتړ بدلون وموي؟

که چیرې ولایت پرېکړه وکړی چې د کورنۍ غړی ته ځانګړی ډول ملاتړ محدود یا لغوه کړی، لکه څنګه چې په ۱۳مه صفحه کې تشریح شوی، نو هغه غړی به بیا هم د خپل شخصي حالت او اړتیاوو له مخې مرسته ترلاسه کړی .هغوی به لا هم د ډاکټر یا نرس لخوا ووینی، طبی مرسته او د خوړو او جامو ملاتړ ترلاسه کړی، او د چاروکو لخوا ټاکل شوی ځای کې د خوب ځای وی .



کله چې چاروای پرېکړه وکړي چې تاسو او ستاسو کورنۍ ته چمتو شوي د استقبال ملاتړ لغوه کړي ځکه چې تاسو بل EU+ هېواد ته تښتئ، د ملاتړ هغه ډول چې تاسو به یې لاهم ترلاسه کوئ به ستاسو حالت او اړتیاو پورې اړه ولري.

ته به بیا هم وکولی شي چې ښوونځي ته لاړ شي.

دا بروشر یوازې د معلوماتو موخو لپاره دی. دا پخپله حقونه یا مکلفیتونه نه رامنځته کوي. د اروپايي ټولنې د پناه غوښتنې ادارې (EUAA) د دې موادو اصلي برخه چمتو کړې ده، او د دې بروشر بیا تولید او بدلون یوازې د EU غړو هېوادونو لپاره د EUAA لخوا اجازه لري. EUAA د EU غړو هېوادونو یا کوم بل مسؤل درېیم اړخ لخوا په دې بروشر کې د شامل شوي معلوماتو د دقت، محتوا، بشپړتیا، قانونیت یا باورۍ توب لپاره هېڅ ذمه واري یا مسؤلیت نه مني. نه EUAA او نه هم د EUAA په استازیتوب، هېڅ شخص په دې بروشر کې د موندل شوي معلوماتو کارولو ذمه واري نه لري.

European Union Agency for Asylum, 2025 ©